# د خاطر افريدي په غزل د پښتني کلتور اثر
# The Impact of Pashtun Culture on Khatir Afridi Ghazal

Mr. Mohammad Ayaz[1]          Dr.Noor Muhammad (Danish Bettani) [2]

***Abstract***

*Culture may be defined as the way of life, customs, traditions, norms and values. Pashtuns are very lucky to have a very rich cultural assets and values. Most of their history is reflected by their cultural values including Folkloric Literature. This type of Literature unwritten in form and transmitted from one generation to other with respect and proud. Pashto poets also reflected their cultural values have in their poetry. Khatir Afridi is a renowned Pashto Poet, has tried to represent the cultural and Folkloric values in his poetry i-e Hujra, Jirga, Melastiya, Nanawaty, Badraga. For some of these cultural aspects, Khatir Afridi has placed them in his Ghazal and he has dressed these cultural aspects in poetry. This is the reason why Khater Afridi's ghazal has gained popularity among the people because the people of the Pashtun community have a lot of love for their culture. The same will be analyzed and discuss in this article in dept.*

***Key Words***: *Pashtun, Culture, History, Jirga, Nanawaty, Melmstiya, Badraga.*

---

[1] Ph.D Scholar, Pashto Academy University of Peshawar.

[2] Assistant Professor, Pashtu Academy, University of Peshawar

خاطر افریدے په یو داسي سیمه کښې پېدا شوے دے چې چرته چې ژوند د پښتني قدرونو په غېږ کښې ساه اخلي ۔ دلته فطرت هم خپلې رنګینۍ شیندلې دي ۔ د لوړو دنګو غرونو حوصلې هم لا په ځاے ولاړې دي او د اسلام تر سیورې لاندې حیا او عزت هم خ پل شان برقرار ساتلے دے ۔

د خاطر په ژوندانهٔ د ټولو خلقو ژوند ډېر زیات ساده وهٔ ۔ هم هغه پُوله پټے، غر او ګودر او د جرګو او لښکرو خبرې وې ۔ دلته ژوند یوه زره هم د پښتني چوکاټ نه د باندې پښه نهٔ شوه کېښودے ۔ هم دغه وجه ده چې شاعر د قدغنونو او بندېزونو په مینځ مینځ کښې د خپلې مینې ډېوه روښانه ساتلې وه ۔ د دې قدرونو او قدغنونو اثر د شاعر په شاعرۍ لکه د نمر څرګند دے کوم چې د خلقو پام ځانته د راګرځولو او د هغوي د زړونو د ګټلو باعث ګرځېدلے دے ۔

د خاطر افریدي شاعري د ځوانۍ د بهار ګلونه دي چې هر یو ګل ئې حسین دے او هر یو رنګ ئې دلنشین دے ۔

امیر حمزه خان شنواري لیکي چې:

”مصري خان خاطر په اول کښې لوستے نهٔ وهٔ ۔ د خپل استاد لعل زاده ناظر شنواري نه ئې لیک لوست زده کړل ۔ شاعري ئې په وینه کښې راوړې وه خو د ناظر اصلاح پکښې ډېوې بلې کړې ۔ زما نه ئې هم څو څو کرته اصلاح اخستې وه ۔ زمونږ سره به مشاعرو ته تللو ۔ اکثر به خېبر افریدي چېړلو ۔ د رنګ او دړې نه بیخي شاعر نهٔ معلومېدو خو چې خپل غزل به ئې وئیل شروع کړل نو اورېدونکي به پوهه شول چې رنګیني لګیا ده بهېږي ۔“ (1)

د خاطر افریدي غزل هر دلعزیز او خوږ دے ۔ په اولس کښې د دهٔ د غزل د مشهورتیا سبب دا دے چې د هغهٔ په غزل باندې د پښتني کلتور غرق اثر شوے دے ۔ خاطر افریدي په خپل غزل کښې د خپل کور کلي او چاپېرچل عکاسي کړې ده ۔ د هغهٔ مینه هم کلیواله، ساده او پښتنه مینه ده او کوم کېفیات ئې چې د مینې ذکر کړي دي په اولسي ماحول پورې اړه لري ۔ ځکه خو د خاطر د زړهٔ اواز د هر پښتون د زړهٔ اواز ګرځېدلے دے ۔ او په

پښتنه ټولنه کښې د شهرت او مقبولیت اوچت مقام ته رسېدلے دے -

دلته به مونږ د خاطر افریدي په غزل د پښتني کلتور اثر د هغۀ د شعرونو په رڼا کښې څېړنه کوو لکه دا چې:

حجره:

حجره د پښتني کلتور یو داسې جُز دے چې حجره او پښتون دوه نۀ بېلېدونکي څيزونه دي -

داور خان داؤد وائي چې:

> ژباړه: "حجره د پښتنو په معاشرتي، اجتماعي او ملي ژوند کښې د ډېر اهميت وړ ده - دلته د هغوي تربيت او نشو و نما کېږي - او د هغوي اجتماعي شعور ته څلا مېلاوېږي - د پښتنو د کوم کلي يا محلې حجره د هغو ټولو اوسېدونکو مشترک ميراث او ملکيت تصور کولے شي - "[2]

متل دے چې "د سلو بللو ځاے کېږي خو د یو نابللي ځاے نۀ کېږي -" خاطر افریدے هم د خپل محبوب نه ګيله شان کوي او وائي چې:

د خاطر ځاے پکښې نۀ شي که څو درشي
ډکه ستا له رقيبانو حجره ګې شوه [3]

مېلمستيا:

حجره او مېلمه سره تړلي پېړلي څيزونه دي - چرته چې د پښتنو حجره وي - هلته به مېلمه اورمرو پېښه کوي - او د مېلمه مېلمستيا کول پښتانۀ خپل ننګ ګڼي -

خاطر افريدے د خپل محبوب غمونه هم مېلمانۀ ګڼي - ځکه ورله د خپل زړۀ په حجره کښې ځاے ورکوي -

که شړلي ئې غمونه قربانۀ دي
خېر دے خېر دے ستا غمونه مېلمانۀ دي

چې د خـنـدا سـره دې راغلــې سـمې
نـن خـپـلې اوښکې مېلمنې شــوې زمــا

لـکه زۀ ستـا د يـادونـو کـړم عــزت د
زړۀ پـه کـور کښې
وايـه دومـره عزت کـړے اشــنـا چــا د
مېلمنـــــــــــــــو دے

راغلے مـوده پـس دے خورې زلـفې مــې
اشـــــــــــــــــنـا
خـاطر خـو ئـې څۀ اوکـړئ د خېبـر خـړو
گـردونـــــــــــــــو (4)

**جرگه:**

پـښتـانۀ پـه جرگـه پـوهېږي او د جرگې قـدر کـوي ـ ځکــه چــې د پـښتـني کـلتـور دغه جُز د پښتنو پـه ټولنـه کښې امـن و امـان قــائم سـاتـي ـ د جرگې پـه اړه داور خان داؤد داسې لـيکي:

"دا يـو مشهور قـبـائـيلي قـانـون دے ، د کـوم چې پـه قـبـائـيلي ټولـنــه کـښــې ډېــر زيــات لـحــاظ سـاتـلے شي ـ لـکه څنګه چې وئـيلے شــوي دي جرگــه عمـومـاً د علاقې پـه مشـرانـو او معززيـنــو بـانــدي مـشـتمـلـه وي ـ کـلـه نــا کـلــه د مقـتــول وارثــان د جرگې د عزت او احترام سـاتـلو پـه بـنا خـون بـهــا هم مـعـاف کـوي ـ" (5)

ځکه ئـې خـاطر افـريـدے هم داسې يـادونـه کـوي :

جرگــــې زمـــا او ســـتـا د راز
اوشـــــــــــــــــولـې
ستـا د مـحفل د هــر ټـــولې پــه
ســـــــــــــــترګـو

خـولـۀ خـو دې هم زمـــا د خـــولـې
نــــــــــــــۀ مـنــــــــــــې
اوښکې مـې ستـا مــخ لــه جرگـــې
راوســـــــــــــــتې

نن مې پته د اشنا سره جرگه وه
يو خبره ئې د بلې نه خوږه وه

د زامنو ورونو قدر هله ور شي
چې د خپلې جرگې واک ئې د تربور شي(6)

بدرگه:

بدرگه هم د پښتنو يو دود دے چې د کوم مظلوم يا د چاسره ئې چې لوښے وي د ظالم يا د دشمن نه ئې حفاظت کوي ـ او په امن ئې تر محفوظه ځايه يا تر کوره رسوي ـ خو د خاطر افريدي د محبوب سره رقيبان بدرگه شوي دي ـ ځکه ترېنه د بوسې خواست نۀ شي کولے ـ

ما وې تۀ به ورته سوال د بوسې اوکړي
ورسره د رقيبانو بدرگه شوه (7)

گوندي:

پښتانۀ په يو قام کښې يو تر بله ډله ټپله او گوندي ميرځي ساتي ـ هر کله چې پښتانۀ په خپل مينځ کښې دشمني راواخلي نو اکثره قام دوه گوندے شي ـ د هر يوې گوندی وگړي په بله گوندی باندې د برتری حاصلولو په غرض د خپلې گوندی هر قسمه مرستې او ملاتړ ته کلک ولاړ وي او د سر او مال قرباني ورکوي ـ گوندي پالل زياتره په دشمن باندې غالب راتللو او د خپل سر خوندي ساتلو په غرض کېږي ـ

په دې حقله خاطر وائي چې:

هغه زما سره گوندی نۀ نيسي
خېر که رقيب رانه خولگی نۀ نيسي (8)

لښکر:

لښکر هم د پښتني ټولني د امن و امان او د خو شحالی او سوکالی ضامن وي ـ د پردي غليم په مقابله کښې د پښتنو لښکر په يوه چغه راپورته کيږي ـ او د غليم ټولي منصوبې د خاورو سره خاورې کوي ـ د پښتني لښکر تُورو د مثالونو نه د تاريخ کتابونه ډک دي ـ

او هر کله چې کشاله په خپل مينځ کښې وي نو بيا دا لښکر د مظلوم مرسته کوي او ظالم ته سزا ورکوي ـ چې په پښتنه ټولنه کښې امن و امان برقرار پاتې شي ـ

دلته به د افريدي قام د تيراه لښکر يادول مناسب وي ـ چې هر کله به د تيراه لښکر راغے نو د ظالمانو نه ئې کوټې سوزولې او جرمانې به ئې ترې اخستلې ـ او د مظلومانو مرسته به ئې کوله ـ او که کشاله به ئې د بهرني غليم سره وه نو د انګريز او مغل خلاف د تُورو قيصې ئې د تاريخ په کتابونو کښې ليکلے شوي دي ـ

خاطر په دې حقله وائي:

دا چې په کور مې د زړۀ شر ګډ شوے
دا ستا د غم پکښې لښکر ګډ شوے(9)

پلو نيول:

پَلو نيول يا مخ پټول دا هم په پښتنو کښې يو عام رواج دے چې ښځې ئې د سړو نه مخونه پټوي ـ او خپله حيا پرده خوندي ساتي ـ ځکه چې پښتانۀ د ښځې د حيا او عزت په معامله کښې ډير حساس دي ـ په پښتنه ټولنه کښې پښتني ښځې ته په بد نظر کتل يا ورسره ناروا تعلق جوړول خپل مرګ ته بلنه ورکول دي ـ خاطر افريدي د پښتنو ښځو د دې رواج عکاسي په خپلو شعرونو کښې داسې کوي:

د مخ ساتنه دې بنو نۀ شوه کړے
خو پرې د زلفو پلوونه راغلۀ

پَلو دې اونيسه رخسار ته ګنې
اے شمع رو شوې مې روانې اوښکې

چې نور پَلو له مخه لرې نۀ کړې
زړۀ مې ايله بيله لُوګے کړے دے

څۀ اوشو خاطره که ئې مخ په پَلو پټ دے
نوره ئې صحيح کړه تماشې خو لږې نۀ دي

تا پَلو ورته له مخه لرې نۀ کړو
د خاطر سترګې کږې شوې ستا په لُورې

دا ئې وو ليدل د مخ چې پټ ئې کړو
ځان ګڼې هوښياره خو نادانه ده (10)

بدڼ:

ناغه يا بنديز لګول دا رواج په غرئيزو سيمو کښې عام دے ۔ پښتانۀ د خپلو غرونو د ونو بوټو هم خيال ساتي ۔ او داسې په يو وار غرونه له ونو بوټو خالي کېدلو ته نۀ پرېږدي ۔ نو له دې کبله د غرۀ چې کوم څوکېدار وي هغه د خلقو د لرګي ضرورت پوره کولو په غرض په کال کښې چرته يو وار دوه څو ورځو د پاره بدن مات کړي يعني ناغه يا بنديز لرې کړي ۔ او خلق خپل ضرورت پوره کړي ۔ د خېبر په خلقو کښې هم دغه رواج دے نو ځکه ورته خاطر افريدي په خپل غزل کښې داسې اشاره کوي:

چې دې بند په ما د ښکلي مخ ديدن کړو
چې نور ئې څوک ئې هم ونۀ کړي بس بدڼ دے (11)

پېغور:

پښتون پېغور هم نۀ شي زغملے ـ يو پښتون چې بل ته د بې پتۍ پېغور ورکړي نو هغه خپل بدل خامخا اخلي ـ په دې حقله اقبال نسيم خټک وائي چې:

"پښتون پېغور ته هم د تېنګې نۀ دے ـ پېغور نۀ شي برداشت کولے ـ او کله کله خو د يو لفظ پېغور په وجه ثابتې کورنۍ هم تس نس شي ـ د يو بد کار د پاره د چا لمسول او هغۀ ته پېغور ورکول څۀ ښۀ کار نۀ دے ـ" (12)

خاطر افريدے د پښتنو دې رواج ته داسې اشاره کوي:

سترګو ته زړۀ اووئيل چې ستاسو
په سر
څۀ پېغورونه راکوي په سترګو

هر يو پېغور دې راته نېغ
اودرېږي
چې دې په لُوري ارادې اوکړمه

دا ستا چې سترګې پېغورونه کوي
زما خو سترګې د حيا ډکې دي

زما به سترګې شي په خاورو مړې
د حسن اوريه پېغورونه مۀ کړه

چې ژاړم چا څۀ ستم نۀ دے کړے
رقيب دې راکړو د جفا پېغور

ما ښۀ درته کتے شول خو پېغور
دې شو راياد
خود پاتې دې ديدن شو چې حيا ته
شوه خبره (13)

سپېلني لُوګي کول:

دا هم د پښتنو يو رواج دے ـ چې څوک بد نظر اووهي يا د بد نظر نه ځان ساتل غواړي نو سپېلني ورته لُوګے کولے شي ـ خاطر افريدے وائي چې:

که راغلې ټول خو به لُوګے کړم لتا
نور د خېبر په سپېلنو څۀ اوکړم

که د نظره شوې خاطر کړه لُوګے
څۀ ضرور نشته سپېلنو ته اشنا

بس دے لرې کړه نقاب دې اشنا زۀ به
ورته ګورم
د نظره پرواه اونۀ کړې خېبر ډک له
سپېلنو دے[14]

ایره خول:

په اور کښې د لرګو د سوزېدلو نه وروسته چې په نغرې کښې کومې ایرې د سکروټو نه ډکې پاتې شي ایره خول بللے شي۔ په دې ایره خول کښې سکروټې له ورایه ځلېږي۔ چې د پښتنو د حجرو د نغرو غمازي کوي۔

خاطر افریدے وائي:

ایره خول به د اُمید پکښې
پړقېږي
که د هجر اور خاطر ایرې ایرې
کړ[15]

کر کیله:

د پښتنو د معیشت انحصار زیاتره په کر کیله باندې دے۔ پُوله پټے، کر کیله، لَو کول او غوبل ترل د پښتني کلتور یوه اهمه برخه ده۔ خو د خاطر افریدي د کرلو انداز ډېر منفرد دے۔

زۀ چې تخمونه د ګلانو کرم
څۀ معشوقې د بلبلانو کرم

پرېږده چې نېغ مې تر سینې اوځي
په زړۀ کښې غم د مهرویانو کرم

ورځ په ورځ همدغه چې زیږیږم او
اوچېږمه

ښکاري چې رېبلے چا د وروځو په
لاړۀ يمه

سرائے د مينې تپوپ کړه اوس به ئې
خلے خلے يوسي
زړۀ تنا د هجر بادامې دربانډې
راغلي

"د خېبر په علاقه کښې په درمن کښې غنم
يا وربشې چې خورې کړے شي نو هغې ته سرائے
وائي او چې راغونډې کړے شي نو تپوپ ورته
وائي ـ چې خاطر افريدي په ښکلي انداز
استعمال کړي دي ـ" (16)

کجل او رانجۀ:

د پښتنو ښځو ښائست هم ساده وي ـ د ځان سينګارولو د پاره هم هغه ساده رانجۀ يا کجل استعمالوي ـ خو خاطر افريدي د خپل محبوب د حسن نه خپلې سترګې رانجۀ کول غواړي ـ او کله کله د محبوب کجل د هغۀ اجل اوګرځي ـ

پرواه نشته دے د ښکليو به ئې
رانجۀ کړم
دا ستا حسن نه لمبې شه زما
سترګه

نن چې بيا دي سترګې تورې په
کجل کړي
نۀ پوهېږم چې بيا خيال چا د
اجل کړي (17)

تور:

په پښتون چې تور اولګي نو سپينږدل ئې بيا ناممکن شي ـ په پښتنه تولنه کښې د ښځې ذات سره ناروا اړيکې جوړول د تور باعث ګرځي ـ او چې څوک د چا تور شي نو مرګ ئې په پښتني آئين کښې روا شي ـ خاطر افريدے د پښتنو دې رواج ته داسې اشاره کوي :

شپې به روڼې کړمه تورې زۀ
پوهېږم
چې دي تور شولو راپورې زۀ

پـــــــــــــــــــــــــــــــــــو هېږم [18]

**کور کلے:**

په پښتنه ټولنه کښې د يو بل سره کور کلے او مړے ژوندے کول په هر وګړي فرض وي ـ په خپلو کښې به دشمني کوي خو چې خبره د مړي ژوندي او کور کلي راشي نو يو بل سره لکه د ورونو ولاړ شي ـ خاطر افريدي وائي چې:

د ښادی په ډېرو ښپو نۀ
معلـــــــــــــــــــــومېږي
چې په مړي دي حصار شي هغه يار
دے

کور او کلے همېشه په غټو زړو
شــــــــــــــــــــــــــــي
هم په ښۀ ډېره دنيا او په سړو
شــــــــــــــــــــــــــــي [19]

**ټنګ ټکور:**

ټنګ ټکور يا رباب غړول هم په پښتنه ټولنه کښې رواج لري ـ دوي چې د ژوندانۀ د تودو سړو نه پس ستړي ستومانه کلي ته راشي نو په حجرو کښې د ټنګ ټکور مجلسونه ګرم کړي چې د ستړې ورځې ستوماني پرې اوباسي ـ

داور خان داؤد ليکي چې:

”تېغ او تفنګ به د دوي زېب و زينت وي خو د طاؤس او رباب نغمې او موسيقي هم د روح غذا ده ـ کله چې د تورزنې متې او فولادي ځُځې د ورځې د ګرمۍ په سُور نمر او د ژمي په سخته يخنۍ او په کنګ ژپلو پُلو او لښتو چې د کر کروندې د خوارۍ او مشقت نه اوزګارې شي نو بيا د شپې په حجرو کښې محفلونه تاودۀ کړي ـ او د ساز او اواز په رنګينو مجلسونو ټوله فضا او ټول ماحول بې خوده او نشه کړي ـ عن تر دې چې مېدان جنګ ته هم د ډولکې په اواز، په ګډا او مستۍ ځي ـ“ [20]

په دې حقله خاطر افريدے وائي چې:

ادم به نۀ ورکوو ټنګ رباب لـــه
ورتـه ئـې کـــړې د درخـــانـې خبـــرې

تـش ګـوګـل چې مې پـه شانـې د ربـاب
دے
فـریـادونـه مې پـه شـــان د زیـــر و
بـــــــــــــــــــــــــــــــم دي (21)

لنډه دا چې خاطر افريدي په خپل غزل کښي د پښتون کلتور په ډېر شکلي انداز کښې نمائندګي کړے ده . په غزل کښې ئې د پښتني کلتور بنيادي توکي لکه حجره ، جرګه ،مېلمستيا ، بدرګه ،کرکيله او داسې نور قدرونه ښه په بشپړه توګه بيان کړي دي ـ

## حوالې


1 افریدي، مصري خان خاطر، "د خاطر افریدي کُلیات"، یونیورسټي بُک اېجنسي خېبر بازار پېښور، ۲۰۰۴ء، مخ ۴

2 داؤد داور خان، پروفیسر، "حمزہ شنواری ایک مطالعہ"، جدون پریس پشاور، 1996ء، ص158

3 افریدي، مصري خان خاطر، "د خاطر افریدي کُلیات"، یونیورسټي بُک اېجنسي خېبر بازار پېښور، ۲۰۰۴ء، مخ ۱۸۴

4 همدغه اثر، مخ ۱۳۴، ۱۷۴، ۱۹۷، ۱۸۰

5 داؤد داور خان، پروفیسر، "حمزہ شنواری ایک مطالعہ"، جدون پریس پشاور، 1996ء، ص۱۲۰

6 افریدي، مصري خان خاطر، "د خاطر افریدي کُلیات"، یونیورسټي بُک اېجنسي خېبر بازار پېښور، ۲۰۰۴ء، مخ ۵۷، ۶۸، ۲۷۱، ۲۷۵

7 همدغه اثر، مخ ۲۷۱

8 همدغه اثر، مخ ۲۵۳

9 همدغه اثر، مخ ۲۸۲

10 همدغه اثر، مخ ۶۹، ۱۰۳، ۲۸۱، ۲۹۰، ۲۱۰، ۱۴۹

11 همدغه اثر، مخ ۲۱۲

12 خټک، محمد اقبال نسیم، "دُردانې"، حرم پرنټرز محله جنګي پېښور ښار، ۲۰۰۰ء، مخ ۲۲

13 افریدي، مصري خان خاطر، "د خاطر افریدي کُلیات"، یونیورسټي بُک اېجنسي خېبر بازار پېښور، ۲۰۰۴ء، مخ ۵۷، ۶۴، ۸۵، ۹۶، ۱۰۸، ۱۷۳

14 همدغه اثر، مخ ۸۲، ۱۴۵، ۱۹۷

15 همدغه اثر، مخ ۱۶۳

16 همدغه اثر، مخ ۱۵۷، ۲۲۴، ۲۴۲

17 همدغه اثر، مخ ۱۱۹، ۱۴۲

18 همدغه اثر، مخ ۲۱۹

19 همدغه اثر، مخ ۷۷، ۲۷۵

---

20 داؤد، داور خان، پروفېسر،"پښتو ټپه"، جدون پرنټنګ پرېس پېښور، اګست ۱۹۹۹ء، مخ ۱۹

21 افريدي، مصري خان خاطر، "د خاطر افريدي کُليات"، يونيورسټي بُک اېجنسي خېبر بازار پېښور، ۲۰۰۴ء، مخ ۲۳۰، ۲۳۷

## Refrences

1.Afridi,Misri Khan Khatir,da khatir kuliyat,University book agency Khyber bazar Pekhawar,2004.makh 4.

2.Daud Dawar Khan,Professor Hamza Shinwari aik mutalia,Jadoon Press Peshawar,1996,page 158.

3. Afridi,Misri Khan Khatir,da khatir kuliyat,University book agency Khyber bazar Pekhawar,2004.makh 184.

4.Ham dagha asar makh 134,174,197,180.

5. Daud Dawar Khan,Professor Hamza Shinwari aik mutalia,Jadoon Press Peshawar,1996,page 160.

6. Afridi,Misri Khan Khatir,da khatir kuliyat,University book agency Khyber bazar Pekhawar,2004.makh 57,68,271,275.

7.Ham dagha asar, makh 271.

8. Ham dagha asar, makh 253.

9. Ham dagha asar, makh 282.

10. Ham dagha asar, makh 69,103,271,290.210.149.

11.Ham dagha asar, makh 212.

12.Khattak,Muhamad Iqbak Naseem ,Durdany Haran printers mahala jangi Pekhawar ,2000,makh 22.

13. Afridi,Misri Khan Khatir,da khatir kuliyat,University book agency Khyber bazar Pekhawar,2004.makh 57,64,85,96,108,173.

14.Hanm dagha asar makh 82,145,197.

15. Hanm dagha asar makh 163.

16. Hanm dagha asar makh 158,224.

17. Hanm dagha asar makh 119,142.

18. Hanm dagha asar makh 219.
19 Hanm dagha asar makh 77,275.
20.Daud Dawar Khan Pakhto Tappa,Jadoon Printing Press Pekhawr, August 1999,makh 19.
21. Afridi,Misri Khan Khatir,da khatir kuliyat,University book agency Khyber bazar Pekhawar,2004.makh 230,237.